پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۵/۰۱/۱۳

# پسرلی مو څنګه پیژندلی؟

## (د استاد صدیق پسرلي لومړی تلین)

«صدیق پسرلی مړ نه دی، د هندو کش په تړ و کې کیند ل شوی مجسمه ده»
(استاد سعدالدین شپون)

هسې هم ښایسته ډیر کلونه وشول چي زموږ له کلي، کور او وطن نه طبعي پسرلي کډه کړې او دا کلی کور، دا وطن او دا خلک يي د خزان زیرو منګلو ته او د حرفوي قاتلینو سرو منګولو ته سپارلی دی؛ مګر زموږ خپل پسرلی، زموږ د کلي کور او د ښو بدو یار پسرلی، زموږ د کتاب، فرهنګ او غزل پسرلی او په هر ډول ناخوالو کې ولا ړ پسرلی؛ دا یو کال وشو چي فزیکي نشت يي موږ زوروي، خو له معنوي پلوه زموږ هر یوه په زړه کې لکه همیشه بهار بوټی تک شین ولاړ دی. یو کال مخکي مو اوښکي تویولي چي پسرلي سترګي پټي کړې او اوس دا دی څوک قلم او څوک ګوتي ښوروو او یاد يي تازه کوو.
بیا هم زړه ته ډاډ ورکوو چي پسرلي د خپل پسرلي ژوند په اوږدو کې ښه بنوالي وکړه، ښه بزغلي يي وکرل او په ځان پسي يي داسي شین فصل او شنه کرونده پرېښوده چي له ورم او شنیلي نه يي، له میوې او نیالګي نه يي ټول خلک بهره مند دي. ولي ټول وطن ، ټول افغانستان شین نه شي ، ولي د ټول نوي نسل د ذهن کروندې شني نه شي، چي صدیق پسرلي په خورا صداقت او متانت سره د خپلي بنوالی په موده کې د نورو پسرلیو بزغلي شیندلي او هغه بزغلي د ده په غمخواری او مهرباني سره داسي شنه را ټوکیدلي چي هر بوټی يي جلا پسرلی دی. ما د همدې عیني واقعیت له مخې د ده په مړیني باندې خپلي لیکني ته «شین پسرلی» سر لیک و ټاکه.(۱)
د صدیق پسرلي بڼ او د بنوال پسرلي بزغلی به تل تر تله شین پسرلی وي او له ورم او ثمر نه به يي ټول خلک ګټه پورته کوي. د استاد صدیق پسرلي بڼ دیوال نه لري، میوه او ثمر يي د ټول کلي او د ټولو کلیوالو ده. د همدې دلیل له مخي ویلای شم چي:
صدیق پسرلی د ټول افغانستان او بشریت ګډه فرهنګي شتمني ده، هغه فرهنګي شتمني چي تر اوسه پورې هغسي چي ښایي نه ده مطالعه شوې او پوره نه ده پیژندل شوې.
د ده له وروستی مخي بني نه څه موده پس ما ځان سره په خپل ذهن کي یوه نقشه رسم کړه او ځان سره مي و ویل: سره له دې چي پخوا د استاد پسرلي په ژوندون، د ده د شخصیت او شاعرۍ په باب د «سیاستوالو،لیکوالو او شاعرانو» نظریات د «غزلبڼ شاعر» تر نامه لاندې نظریات د ښاغلي آدم خان سیرت له خوا را ټول او چاپ شوي دي؛ خو بیا مي هم په زړه کي وګرځیدل چي که داسي وشي چي د استاد د مرګ په خاطر د ده د کورنی، لارویانو، خواخوږو او ... له خوا د لیکل شوو او چاپ شوو مقالو، پیامونو او مرثیو یوه ټولګه برابره شي او د ده د لومړي تلین د درناوي په مناسبت خپره شي، نو له یوې خوا به د استاد قدر شوی وي او له بلي خوا به مو د پسرلي پیژندني لومړنی ګام اوچت کړی وي. ( بویه چي دا کار به شوي وي)
څنګه چي «صدیق پسرلی په پښتو معاصره شاعرۍ کې، له استاد حمزه شینواري نه وروسته د پښتو غزل بر حقه استاد دی» له دې اړخه او له څو نورو اړخونو نه هم پښتو ادب او ژورنالیزم د ده د شخصیت او هلو ځلو پوروړی او منندوی دی. دلته به د ده د لومړي تلین د درناوي په مناسبت د ځینو فرهنګیانو هغه خپاره شوي نظریات او خاطرات را واخلم چي زما له نظره تیري شوي دي:
ایمل پسرلی يي وروستی دیدن او نه شتون داسي یادوي:«
۲۰۱۴ کال:
په لومړنی ورځ يي له پراګه لندن او له لندنه دوبی او بیا کابل ته لاړم.ستړي، وبږدلي او له نه مننونکي حالت سره مخامخ شوی پلار مي په روغتون کي بستر و، لیدو ته يي ورغلم. زهیر شوی و، خو د سترګو ځلا ، د زړه ډاډ او د پستو رغویو مینه يي پر ځای وه. ښکل يي کړم. د وطن پوښتني يي وکړې، لمسیان يي یاد کړل او بیا يي یوه سترګه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

خوب وکړ. د جنوري په ۱۲ مه له کابله دوبۍ ته لاړم، د لندن په لور خوځېدم چې د پلار له مړينې خبر شوم. د دوبۍ له شوره ډک هوايي ډګر راته غلی شو.
لندن ته راغلم ماسپښين و، مازيګر بيرته د کابل په لور رهي شوم.
جلا کېدو يې په يوه خبره وپوهولم، د ډېرو راته نژدې ستو په قوت په ژوند يا نه پوهيږو او يا يې نه شو درکولای.
ټول ژمی وځورېدم خو بيا پسرلی شو د مينې موسم ...
... اوس چې دا کال ختميږي نه پوهېږم څرنګه به يې هېروم، ويې غورځولم، پورته يې کړم. روح دې ښاده، د مينې پوروړی.» (۲)
استاد سعدالدين شپون ښايي د پسرلي صاحب په باب ډېرې کيسې او خاطرې ولري، خو په دې نږدې ورځو کې يې خپله يو جالبه خاطره په هنري ښه داسې انځور کړې ده:
«... له هغې پس پسرلی زما پير شو. پخوايوازې شاعر، اوس مې مشر. بيګا شپه مې هم د ده په غزلو غاښ تود کړ. د پسرلي زامن ما ته داسې دي لکه کشران ورونه. که لا هم خپل پلارمړ بولي، وير پې کوي ، نو ورته وايم وير نه، بلکه وياړ وکړئ. هغه مړ نه دی، د هندو کش په تړ و کې کيند ل شوې مجسمه ده.»(۳)
استاد حبيب الله رفيع د پسرلي صاحب په ژوندينې د هغه د «غزل بڼ» د چاپيدو په وياړ د پسرلي د افکارو او شعرونو په باب داسې ويلي وو:
«د پسرلي صاحب غزل د انځورونو رنګينې، د ادا سنګيني او د فن مهين په ښکلې تناسب کې له ځانه سره لري چې د روانو دريو لسيزوغميزې غمګيني هم پرې ور زياته شوې خو ور سره د برې ډاډمن هم او دې ټولو د ده غزل ته فني قدرت او فکري وسعت وربښلی او د غزل په نازکه غيره کې يې د درندو پېښو انعکاس لکه په عطرو اوعسلو کې د ګلونو د بوی او خوند غوندې نغښتی دی ...»(۴)




يو وار ډوکتور لطيف بهاند په خپل فيسبوک کې پاڼه د پسرلي صاحب ياد داسې وکړ:
«اميد که راولي چې په تيارو کې نه شي تور ...
د خدا ښښلې استاد محمد صديق پسرلي، دا غزل له کلو کلو را هيسې په وار وار لولم او بيا يې لولم، نن سبا ډير ښه لري. هغو ته چې د برې ناوې له تيارو را تيروي:

آشنـــا راځــــه فرصـت درسـره پـلـی راولـــه
سـپرلی د نيکمـرغــی، تــر لاس نيـولی راوله
څادر ور باندې خپور کړه له مينا سره کـړه پام


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په څير و لولئ

شیـــخان ګـــرځي، محفل تـــه ساقي غلی راولـــه
چې تل تر و تازه وي، په شبنم يې څـــه سپارې؟
د هیلو ګـل د زړه پــــه ویـنـو وللـی راولــــه
د خدای پر دې مخلوق چې يې، رڼا نه لوريـده
په ټيټ سر يې، لکه سيوری شرميدلـی راولـــه
د نـویـو خوشالیـو وړ کـــه نه يو، نو خاونـده
پـــه تـیرو بهـارونـو کـې یـو ښـکلی راولـه
اميـد که راولې چې پـــه تيارو کې نه شي تـور
د لــمر په سمنـدر يـــې، لــمبـولـــی راولـــه
یـــا مـــا در سره بـوزه، شـنو لمنو ته سپرليه
یا بـوی د شنـو شـوتـلـو، نښتيځلی راوله»(۵)

کلونه پخوا مو د مهاجرت په يوه سترې چاپيرياِل کې د خپل کلتور د ساتلو تقليد کاوه. څو تنه فرهنګيان مو دنوي کال د تجليل په پلمه راټول کړي وو. لکه تل مو محفل دوې برخې درلودې:
ـ مشاعره، چې هر چا هر څه تيار په حافظه يا کاغذ کې درلودل، اورول يې.
ـ موسيقي چې استاد يار محمد عليزي محفل په خپلو ښکلي غږ سره رنګين کړی و.
د محفل مشري ډوکتور لطيف بهاند کوله.څنګ ته يې ناست ګران دوست زرين انځور باندې يې نا څاپي غږ وکړ او دڅه ويلو هيله يې ورنه وکړه. زرين انځور و ويل چې زه به د پسرلي د رارسيدو په خاطر د استاد صديق پسرلي داسي يو غزل تاسو ته واوروم چې د پسرلي په قلم د پسرلي په باب انشا شوی دی او د خپلو خبرو په لړ کې يې د نورو خبرو تر څنګ، د استاد صديق پسرلي په باب داسي وويل:
«... صديق پسرلی په پښتو معاصره شاعری کې، له استاد حمزه شينواري نه وروسته د پښتو غزل بر حقه استاد دی.»
د افغانستان د موسيقۍ مطرح څېرې، فرهاد دريا اوس په خپلو هنري او ټولنيزو هلو ځلو ثابته کړې چې دی په رښتيا سره دريا دی. زه د استاد صديق پسرلي تر مرګ پورې هم په دې نه پوهيدم چې د فرهاد دريا شناخت له ډيرو خلکو نه د استاد صديق پسرلي په باب پراخ، ډير او معتبر دی. زه وروسته له ډير وخت نه په دې راز پوه شوم چې فرهاد دريا د پوهې خزانه له کومه کړه او د غني مطالعي فرهنګ يې څنګه لومړی له خپل کورني محيط نه پيل شو او وروسته يې بيا په ښاري او پوهنتوني چاپيرياِل کې پسې و غځاوه او تر نن پورې يې تعقيبوي. د استاد صديق پسرلي د مړيني په خاطر فرهاد دريا په خپله فيسبوک پاڼه کې د استاد دوه عکسونه او يو له ميني او درد نه ډک مطلب خپور کړ. د دې مطلب په يوه برخه کې داسي راغلي دي:
« ... استاد برای من پدیده ی فراتر از يك شاعر و نويسنده بود ... وقتی كودك بودم، پدرم دو دوستِ نزديك تر از پيراهن و دو همنفس داشت. يكی آهنگساز گمنامی بود كه هميشه از ولايت بغلان به ديدن و خلوت كردن نزدش می آمد و ديگر استاد پسرلی كه خواهرزاده ی او نيز می شد و همديگر را سخت عزيز می داشتند.
... فرهنگی كه با رفاقت استاد و پدرم، حريم خانه ی ما را با كتاب و شعر و ادبيات و لطيفه ها و دقيقه های ناب طهارت می داد، برای هميشه زير پوست خاطره ها در من و در هواخانه ی شيرين ترين ثانيه های كودكی و نوجوانی های من ته نشين شد ...»(۶)
ومان نيازی د استاد پسرلي د ياد ژوندي ساتلو په برخه کې داسي نظر لري:
«د پسرلي استاد روح دې ښاد وي، د غضنفرصاحب يې کور ودان، د استاد کوټه او په استاد پورې مربوط ټول شيان يې ساتلي دي.
تير کال ژمی، زاړه ډهلي چاندني چوک کې وم، د ميرزا اسدالله خان غالب کور په همدې چوک کې و، ورغلم، ټول لوښي، جامې او نوره اثاثيه يې په جلا جلا ويترينونو کې ننداري ته ايښي وو، په دې هيله چې په استاد پورې مربوط شيان هم همداسي خوندي شي، چې د مينه والو يې په هره جلوه تنده ماته وي»(۷)
د استاد صديق پسرلي د کور يوه ښځينه غړې، د استاد يوه دانشمنده نږور، د پسرلي څيره د خپلو خاطراتو په ترڅ کې د تورو په جامه کې داسي انځوروي:
«...له آغا بابا سره مې په اول وار په ټيلي فون خبرې وکړې. تر هغه وخته مې حتی د دوی عکس نه و ليدلی. مهربانه او داسې څوک را تر غوږ شو لکه له ډيره وخته چې يې پيژنم.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

... په تقريبا دري کلونو کې مې پر ټيلي فون له آغا بابا سره دومره خبرې کړې وې چې نا ليدلی مې هم داسي احساس کاوه چې ډير مې ليدلی دی.
... مخامخ مې دغه اول وار و چې ليدی، آغا بابا مې په کور کې وليد. داسي يې راسره وليدل لکه د کلونو کلونو شناخته چې سره ويني. هيڅ احساس مې ونه کړ چې يو ځوک په اول وار وينم.
... ما فکر کاوه چې زه د شعر او ادبياتو سره دلچسپي نه لرم نو آغا بابا به راسره د خبرو موضوع نه لري. خو اغا بابا سره چې به مې په کومه موضوع خبرې شروع کړې داسي به يې (خبرې)کولې لکه همځولې چې يې يم، پوره احترام او مساوي حق مې احساساوه. په کور کې يې له ټولو سره ټوکې کولې، ځوک يې تر ځان کښته نه بلل.
... له شپني او برمل سره يې سم مجلس کاوه. له کوچينيانو سره يې ډيره مينه کوله. وروسته پوه شوم چې که به کوچنيان خپل و که پردي پر اغا بابا بنه لګيدل او مينه به يې ورسره داسي کوله لکه د زړه ټوټه چې يې وي.
... د نصحيت کولو عادت يې نه درلود خو چې کله به مې په کومه موضوع وغوښتل چې مشوره راکړي داسي به يې راته وويل لکه د پوهنتون استاد چې به د يوې موضوع دوه اړخونه مخ ته راته کيښودل او فيصله به يې موږ شاګردانو ته پرېښوده چې کومه برخه انتخاب کړو.
... ځو مياشتي وړاندې چې مې په وروستي وار د ديدن نصيب سره وشو پوښتنه مې ځيني وکړه چې شپنه او برمل ځرنګه تربيه کړم؟ جواب يې حيرانه کړم:
«زموږ خلک وايي اولاد د پلار نيکه غوندي وروزه، خو دې ته يې پام نه وي چې د پلار نيکه زمانه او اوسنۍ زمانه سره جلا ده. کوچينيان له خپل عصر سره سم روزل غواړي. خپله ژبه يې بايد زده وي او تعليم ته يې توجه پکار ده»
... په وروستيو وختونو کې مې د اغا بابا شعر ولوست. فکر کوم چې د شعر په حصه کې يې هم زما نظر بدل کړ. په ځينو شعرونو کې يې فکر او شخصيت وينم. شعر يې يو سايکلوژيکه ارامتيا راکوي او پر ژوند مې ژور فکر ته مجبوره کوي.»(۸)
د دي بحث په پای کې بايد و وايم چې:
دغسي چې«لام» په «بلورستان» کې د «ايلينو» ځيره په تيرو کې وتراشله او غفور ليوال په هنرمندانه ډول، په سحر ګرو تورو سره د لا م او ايلينو ځيره او کيسه تلپاتې کړه؛ همداسي استاد صديق پسرلي لا وړاندي له ابدي مخه بنې نه د خپلو شعرونو، آثارو او تر سره کړو فرهنګي کارونو له لاري خپله مجسمه د خلکو، لوستونکو او مينه والو په ذهنونو کې تراشلې او ابدي کړې ده.
د صديق پسرلي د علمي شخصيت په باب او د هغه د شاعرۍ او فن په باب ښايي ډيرو فرهنګيانو خپل نظريات خپاره کړي وي، چې ما د يوې مقالې د حوصلې په چوکاټ کې د ځينو هغو ښاغلو نظريات را واخستل چې زما له نظره تير شوي او زما په آرشيف کې نقد را ته ايښې دي.
همدا اوس هم زه دا هيله لرم چې کاش ما د خپل وطن په راتلونکي پسرلي کې د کندوز له لاله ډکو سرو دښتو کې يوه مشاعره جوړه کړې وای او د پښتو ادب دا ستره ستره (استاد صديق پسرلی) را سره وای او ...
څه وکړو د خدای رضا به همداسي وي.
«ستا په رضا زما رضا ده ربه ...»
مآخذونه:


1_ http://www.taand.com/archives/17484
2_ https://www.facebook.com/EmalPasarly?fref=ts
3_ http://www.taand.com/archives/37618
4_
http://www.bbc.co.uk/pashto/afghanistan/2012/02/120213_pilwazi_3_feb.shtml

_5 https://www.facebook.com/profile.php?id=100001882552459&ref=ts&fref=ts
6 _ https://www.facebook.com/FarhadDaryaOfficialPage?fref=ts
7 _ https://www.facebook.com/oman.niazi?fref=nf
_8 http://www.taand.com/archives/19143




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په خير و لولئ